مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۲/۰۹/۰۳

# غــزل

غر به دې په ما باندې د ټول عمرا حسان شي
خدایه! زما مین چې لږ زما په لور روان شي

څړیکې که دې زړه ته ماته ومنه؛ نو پوه شه
درد ته به مې اوښکې سره لمبه شي چراغان شي

سترګې مې په سترګو کې قرارې کړي جانان شي
زما قاتل په خپله زما دردونو ته درمان شي

دا ځواني دې خاورې ستا د حسن په ساتلو شي
ستا حسن دې پاتې تر قیامته جاویدان شي

مسته غاړه راکړې؛ خفه یار مې راپخلا شي
پاتې د رقیب په زړه بیلتونه! ستا ارمان شي

غیږ په غیږه مرو زمونږ د مینې پالل داسې
دا نیمګړې مینه دې نسلونو ته داستان شي

ستا د جدایي خبر دې نه راځي جانانه
چغه به مې پورته له ګونګ ستوني تر اسمان شي

۲۰۲۰/۱۱/۱۲


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ